# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبــــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعي


۰۵ فبروری ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۳۸

### ۱۰۷- زړه :

د اسلامي زده کړو او عرفاني نظريو له مخي د مؤمن زړه يوازي د غوښو هغه ټوټه نه ده، چي د ژوو په څېر د بدن نورو برخو ته وينه رسيي(رسوي) . په اسلامي تصوف او عرفان کي د مؤمن زړه د عرفان او معرفت سرچينه، د الهي انوارو د تجلا هينداره، د وحي او الهام مرکز، د خدای تعالی حرم او د لوی ښتن د ميني هغه ستر مقام دئ، چي د ځمکي او اسمانو په ګډون، د الله سبحانه وتعالی تر ټولو عالمو، لوی، ستر او اَرت دئ .

د اسلامي عرفان نوميالی انګرېز ليکوال او څېړونکی – پوهاند ر. ا. نيکلسن ( ۱۸۶۸ - ۱۹۴۵م) په خپل مشهور اثر« د اسلام صوفيان » کي زړه په داسي ټکو را پېژني، چي د اسلامي تصوف او عرفان له منلو ډکتورينو سره بشپړ سمون لري . دی کاږي، که څه هم قلب يا زړه ، په ټېټر يا ځيګر کي د غوښو له زړه سره په مرموز ډول اړېکی لري؛ خو په حقيقت کي د غوښو او وينو زړه نه دئ . دا زړه، په انګريزي ژبه کي د زړه (heart) د ټکي پر خلاف ، مانوي ( معنوي) او عاطفي ماهيت لري . په داسي حال کي، چي ذهن او عقل په رينښتني ډول خدای نسي پېژندلای ، زړه ددې وس لري، چي د ټولو شيانو جوهر و پېژني . کله چي زړه د ايمان او پوهي په نور روښانه سي، بيا نو د الهي عقل ټولي ځانګړتياوي بيانيي[1] . دغه راز، پروفيسر نيکلسن د اسلامي تصوف او عرفان له نظره، له الهي هستی سره د راز و نياز درو بېلابېلو غړو ته اشاره کيي . دی ليکي : « صوفي دروحاني اړېکو درو غړو ته د توپير او جلاوالي په سترګه ګوري : قلب يا زړه ، چي خدای پېژني . روح، چي له خدای سره مينه کيي؛ او د اروا دننه برخه يا راز، چي د ده په باب فکر کيي[2]. »

دسپېڅلي قرآن له لاربنوونو سره سم، د الله تعالی ذات او هستي پر ټولو کايناتو راګرځېدلي ده . د کايناتو ګرده موجودات، په همدې بې پايه او بې زواله، بې مثله او بې نظيره هستی کي نغښتي دي . د هر موجود ژوند

او مرگ  تول پراونه هم په دغي هستی پوري اړه لري؛ سره له دي هم دا ستره او لو (لویه) هستي د هغه چا په زړه کي ځان نیسي، چي د ده پر ذات او صفاتو پوره باور ولري؛ او په هر څه کي د ده قدرت او عظمت ځلېدونکي پلوشي و ویني . د مؤمن د زړه د لویوالي او غټوالي په اړه، په یوه قدسي حدیث کي داسي راغلي دي : « لا اسع فی الارض و لا فی السماء ولکن اسع فی القلوب المؤمنین » یاني زه پر مځکه او اسمان ځای نه سوم؛ خو د مؤمنانو په زړو کي ځای سوم۳ . فخر العالمین  -  حضرت محمد( ص) په یوه مبارک حدیث کي د مؤمن د زړه د لوی والي او سترتوب په باب داسي بیان کړئ دئ : « قلب المؤمن اکبر من العرش و اوسع من الکرسی » یاني د مؤمن زړه تر عرش غټ او تر کرسی پراخ دئ۴ .  رسول الله ( ص) په خپل بل مبارک حدیث کي د مؤمن زړه د حق تعالی د حرم په توگه یاد کړئ دئ، چي باید د هر ډول اغیارو له دوستی او  اغېزي څخه وژغورل سي : « قلب المؤمن حرم الله وحرام علی حرم  الله ان یولج فیه غیر الله » یاني د مؤمن زړه د څښتن تعالی حرم دئ؛ دې حرم ته د بل چا ننیستل، حرام دي .

د  مغولي تاړاکگرو پر ضد د پښتنو د خپلواکۍ بخښوونکو مبارزو مړني مشر؛ او  د  عرفاني طریقت مفکر لاربنود - پیر روښان ( ۹۳۱  - ۹۸۰ هـ ق) د غوښنو هغه زړه ته، چي  پر انسان سربېره د هر سخنودر او وزگړي په  وجود کي هم پروت دئ، د اصلي او ریښتني زړه په سترگه نه گوري  .  هغه د خپل وخت له یوه شکاک دیني عالِم،  مولانا زکریا، سره د خپلي اوږدي علمي او عرفاني مناظرې په ترڅ کي د مؤمن د زړه په اړه، په  همدې قدسي او نبوي حدیثو کي د بیان سوو حُکمو او لاربنوونو په هغه مانوي مفهوم  استناد کړئ دئ؛ چي له مخي یې د مؤمن زړه تر کایناتو لوی او پراخ دئ .

د طریقت او سلوک تول مخکښان، د یاد سوو اسلامي نصوصو پر اساس ، د مؤمن زړه ته په خورا لو او لوړه سترگه گوري . ځیني مفکرعرفاني پیشوایان د همدې ستر ارزښت پر بنسټ  د مؤمن زړه د جلیل کعبه گڼي، چي  د تو حید د ستر سالار ، حضرت ابراهیم خلیل الله ، په لاس  جوړه  سوې کعبه ورسره د هیڅ  ډول مقایسی او برابرۍ وړ نه ده؛ ځکه د زړه کعبه، الله سبحانه و تعالی په خپله جوړې کړې ده؛ دا کعبه د ختو او خښتو هغه کوچنۍخونه نه ده ، چي د توحید لارویان یې پر شاوخوا طواف کیي؛ د جلیل کعبه د رب العالمین  داسي  بې ساري حرم دئ، چي  له الهي انوارو څخه جوړ سوئ دئ؛ او تر کرسی او عرش  لوی دئ .

زموږ د زماني وتلي او منلي عرفاني شاعر- علامه اقبال لاهوري ( ۱۲۹۴هـ ق/ ۱۸۷۶م  - ۱۳۵۷هـ ق/ ۱۹۳۸م) په یوه شعر کي د مؤمن د زړه خورا ښکلی تصویر وړاندي کړئ دئ :

« من اول آدم بی رنگ و بـویم
پس آنگه هـنـدی و ایرانیم من
قلب ما از هند و روم و شام نیست
مرز و بوم ما بـــجز اسلام نیست
مسلم استی دل به اقلیمی مبـند
گم مشو اندر جهـان چون و چند
می نگنجد مسلم اندر مــرز و بوم
در دل او یـــاوه گردد شام و روم
دل بدست آور که در پهنـای دل
می شود گم این سرای آب و گل۵ »

زموږ دراک او باریک بین عارف شاعر، علي محمد مخلص، هم د اسلامي زده کړو، په تېره بیا د روښاني طریقت د عرفاني ډکتورینو په رڼا کي د زړه په باب ډېري ژوري او دقیقي خبري کړي دي . هغه د خپل پښتو دیوان په یوه غزله کي د مخکي یاد سوي قُدسي حدیث په استناد د مؤمن زړه د لوی پروردګار حرم ګڼي؛ او په داسي سپېڅلي ځای کي د ماسوای الله ننیستل او مېشت کول، د سختي ترټني او کرکي وړ بولي . له دې امله، مخلص د تصوف او عرفان سالکانو ته خبرداری ورکیي، چي د حقیقي مؤمنانو په توګه خپل زړونه له هر ډول اغیارو، حجابو او تعلقاتو څخه په بشپړه توګه پاک کي . لکه څنګه چي وایي :

په عالَم کښي لون لون حـیوانات دي
د سړي په دود ګویا بل حیوان کم شي
حقاني بادشاه هاله ورشي په زړه کښي
چي بې پاک له غیرالله د زړه حـــرم شي
چي د حق په حرم غیر ننبــاسي
هغه کس به په څلور مذهـــــبه ګرم شي
زړه حرم د مولا یاد دئ په حدیث کښي
هر عـــارف چي په حرم د حق محرم شي

په بله غزله کي، د مؤمن د زړه د لویوالي او ستروالي په باب، د حضرت محمد ( ص) په مبارک حدیث کي وړاندي سوی عرفاني نظریه، داسي بیانیي :

د مؤمن زړه  مي تر عرش، کرسی وسیع دئ
د مؤمن په زړه کښي ځای بصیر، سمیع دئ
د حق ذات په آسمان، ځمکه کي ځای نه شه
د مؤمن په زړه کښي ځای شه دا بـدیع دئ

په یوه ژور او ښکلي عرفاني بیان کي د دوولا مکانه او بې مثله هستیيو د معجزه ډوله یووالي او پیوستون انځور وړاندي کیي، چي یوه یې د عالمود خالق هستي او بله یې د مؤمن د زړه  بې ساري هستي ده . له همدې کبله، په اسلامي عرفان کي انسان د جسم او وجود له پلوه  د عالَم صغیر یا کوچنی عالَم؛ او د مانا په لحاظ د عالَم کبیر یا لوی عالَم په توګه یادیږي .  مخلص، په یوه وجود کي دا دوه عالَمونه داسي تصویریي :

د مؤمن زړه لامکان، مکـان یې نشته
لامکان په لامکان کښي ځان ګـنجان کړ
بې جهت به په جهت کښي که استوګـه
دي بې مثله په بې مثله کښي آستـان کړ
د بې حد په بې حدیبه کښي مـاوا۶ شي
هم بې چون په بې چونی کښي ځان نهان کړ

په بل ښکلي انځور کي د مؤمن زړه  له جام جم، اُم الکتاب، لوح محفوظ او د لوی ښبنتن له عرش سره تشبیه کیي :

جام جم و زړه تـــــه وایي
دی د کُل عالَم مظهر دئ

هم اُم الکتاب محـفوظ شه

دهمه عِـلم مــادر دئ

کُل فتوا۷ له زړه و غــواړه!

دی مفتي د خیر و شر دئ

کُل پر زړه دي نازل شـــوي

له آیات، حدیث خبـر دئ

عرش الله د مؤمن زړه شـــه

دی له غیرو مُطـــهر دئ

مخلص، زړه د الهي پیغامو او تلقینو داسي لوړ مقام ګڼي، چي د نوس وسوسي او شیطاني اندېښني یې پر وجود پرهارونه جوړيي :

زړه د وحي، الهام ځــای دئ

وسوســـه ځني وتـراشه

وسوسه پر زړه پرهـــار کـه

په بد فکر يي مه خراشه

بل ځای، زړه هغه بې ساري هینداره بولي، چي تل د حق تعالی انوار پکښي ځلیږي :

زړه بې مثله آینه ده، دی مظهر د تجلا۸ شه

حق دایم پرې تجلا که دی زیبامنظر رعنا

د مخلص دعرفاني او فلسفي نظریو له مخي، زړه او اروا یوازي هغه مهال د لوی ښتن د حرم مقام تر لاسه کيي، چي د الهي معرفت په نور روښانه سي . مخلص، په یوه ښکلي بیان کي د زړه پر حرم د الهي معرفت د بې مثله وړانګو اغېزه داسي انځوريي :

هغه زړه چي شي روښـــان د ذات له نوره

د صورت قفس به مات که له سروره

چي آفتاب د معرفت باندي و خـیژي

د زمین مخ به آزاد کـــه له بدوره

په یوه بله غزله کي په جلا جلا توګه هغه اووه زړونه را پېژني، چي د ده عرفاني پیر- بایزیدروښان قدس سره، د قرآني او اسلامي نصوصو پر بنسټ، په خپل ارزښتناک عرفاني اثر« مقصود المؤمنین » کي بیان کړي دي . دا اووه زړونه په دې ډول یاد سوي دي : « مُرده زړه »، « مریض زړه »، « ترسنده زړه »، « منیب زړه »، « شهید زړه » او « سلیم زړه . » د دې غزلي په یوه بیت کي د دغو زړو په باب داسي راغلي دي :

دا اووه زړونه وګوره په قران کښي مرقوم شوي

مرده زړه د کــافرانو له اموانه دی محسوب

د مخلص په عارفانه شاعری کي زړه دیوي ارزښتناکي مسألي په توګه، په خورا نوښتګرو هونري انځورو کي بیان سوئ دئ . په یوه غزله کي دا عرفاني مسأله سپړلي ده، چي بې مثله زړه یوازي د هغو صاحبدلانو روزي ده، چي د زړه هینداره یې د دونیا او عقبا له هر زنګه پاکه يي؛ او د زړه په حرم کي یوازي د

الهي میني وړانګي وځلېږي . د ده په باور، حق تعالی د اُم الکتاب، لوح محفوظ او جام جام په څېر بې مثله زړه یوازي صاحبدلو عارفانو ته عطا کيي :

صاحبدل دلداران لږ دي په جهان کښې
حق یګان یګان د زړه د مَلـک ارباب که
چي بې مثله زړه حاصل که صاحبدل شي
صاحبدل ته ګشاده د حکمت باب که
تر دا لویه مرتبه په جهان نشته
چي يي زړه لوح المحفوظ، اُم الْکــتاب که

بل ځای، عام خلګ د ناپوهی په رنځ اخته بولي، چي پټ ذکر يي دوا؛ اوکامل پیر يي طبیب دئ :

د غافل زړګی مجروح علاج يي نه زده
خفي ذکر يي دارو دئ په صــبوحه
پیرکامل د زړه طبیب عامي بیمار دئ
له وسواسه یو زمان يي ده رکوحه

مخلص، په خپلو عرفاني نظریو کي د زړه دېرلوړ او بې ساري مقام ته په کتو سره، عرفاني سالکانو ته خبرداری ورکيي، چي هیڅکله د زړه په ساتنه کي د غفلت او بي پروایي لار غوره کړي :

که سالک يي د خپل زړه نګهبــان اوسه!
دخپل دل تر قلعه ګرزه پاســبان اوسه!
شیطاني اندېښنه مه پرېږده په زړه کښې
همېشه د زړه د ښهر دربــان اوسه!
د زړه غېلي له شیـــطانه ګرګه ژغوره!
شب و روز د خپلو غېلو چوپــان اوسه!

په بله غزله کي د مؤمن زړه د عنقا په دود د لامکان د ناپایه عالَم ښکار بولي؛ ځکه نو باید تل د دین او دونیا له خزې ژغورلئ؛ او دالهي معرفت په ښکلي ګانه سینګار يي :

زړه نخجیر د لامکان، له خزې ژغوره !
دین، دنیا د زړه خزه ده له زحمته
زړه میدان د مــــعرفت عرش د مولا دئ
دي مخلص که پاکیزه له نجاسته

مخلص، د دونیا میني او څُوَب ته، د زړه د درد او خواشینی په سترګه ګوري :

هغه زړه چي د دنیا په حُب شیدا شي
په دېرغم، اندوه ګرفتار بېګا صبا شي
په تمام مراد حاصله د چــا نشي
زړه له دي درده همېش په واویلا شي

د نورو مالوماتو دپاره وګورئ : اسمانونه، ستوري، کرسی او عرش، جام جم، روح، د حیوان بحر، د محیط بحر او لوح محفوظ .

**لمنليکونه**

1 Nicholson 68.

2 Nicholson 68.

۳ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۲۰۳.

۴ اسفندیار ۲۸۱؛ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۲۰۳.

۵ شادروان ۹۶ .

۶ اصل : ماوی .

۷ اصل : فتوی .

۸ اصل : تجلی .

پاته لري